


# دستراونومیالي رحمان بابا د روحاني، تصوفي،عرفاني، ادبي او فرهنګي شخصیت په هکله یو څوخبرې

زموږ په تاریخي، لرغوني او ادب پاله هیواد افغانستان کې د پښتو ادب په تاریخ کې
پوهان، لیکوالان او شاعران هغه درنې څیرې او روښانه مشالونه دي،چې زموږ دپښتو
ادب یې دخپلو لیکنو او آثارو په وسیله خیرازه او ژوندی ساتلې دی. دپښتو ادب په ډګر کې د دغو علمي، ادبي او فرهنګي
شخصیتونوآثار به تل ژوندي [illegible] زموږ په [illegible] هان
لیکوالانو، ادیبانو، فرهنګیانو [illegible] شاعرانو [illegible] خپلو آثارو کې د [illegible] او [illegible] وند
مختلف حالات او اړخونو په ډیر عالمانه او علمي څیړنیزو، تحلیلونو، تصویرونو او فکرونوکې دقلم په ژبه لیکلي او بیان
کړي دي، چې د دوی دا لوړ علمي، څیړنیز، ادبي اوفرهنګي مقام اومنزلت زموږ دخلکو په زړونو کې دتل لپاره ژوندی او
ددوی کارنامې دقدر او ستاینې وړ دي .
دا دعلم، ادب او فرهنګ دوستانو او د ټولو هغو خلکو، چې دعلم، پوهی، ادب او فرهنګ سره ځانګړې مینه لري انساني دنده
ده، چې د خپلو علمي، تاریخي، سیاسي، ادبي، فرهنګي او ملي شخصیتونو ویاړنې او کارنامې د دوی د آثارو په رڼا کې
دراتلونکو نسلونو دروزنې او پالنې او لارښوونې لپاره ژوندي وساتي . دا جوته ده، چې د دغو شخصیتونویادول او د دوی
پرآثارو علمي او څیړنیزې کره کتنې او د غونډو، سمینارونواو کنفرانسونو جوړول داوسنیو او راتلونکوځوانونسلونو د ودې
اوپرمختګ لپاره کارنده او ژور اغیز لري .
یو له دغو روښانه او ځلانده ستوروڅخه،چې دشعراوشاعرۍ پوسیله یې زموږ دپښتو
ادب ډیوې بلې ساتلې دي دپښتو ژبې نامتو،عالم اومتفکر شاعرعبدالرحمان بابادی . زه باور لرم، چې زموږ درنو لیکوالانو
د رحمان بابا د هر اړخیز شخصیت په هکله ډیرې زیاتې لیکنې کړې دي، خو زه هم دې ته وهڅیدم او ځان ته مې دا حق
ورکړ، چې دده د علمي، روحاني او ادبي شخصیت په هکله یو څو کرښې ولیکم .

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

خدای بخښلي عبدالرحمان بابا د ارواښادعبدالستارخان مومند زوی دی، چي په یوه علم پروره او غریبه کورنۍ کي په (۱۰۴۲) هجري قمري کال کي په(بهادر کلي)کي ، چي د پيښور ښار په جنوبي اړخ کي پروت دی نړی ته سترګي غړولي دي .

د عبدالرحمان بابا د دیوان په یوه سریزه کي لیکل شوي دي، چي عبدالرحمان بابا د پښتو د سجره نسبت له مخي (سړبن) په سړبن کي (غوریاخیل) او په غوریاخیلو کي (مومند)په مومندو کي (دویزی)او په دویزو کي (ابراهیم خیل) دی .

که څه هم رحمان بابا په قوم مومند دی خو دی ځان کومي قبیلي ته نه منسوبوي او ځان د خدای(ج)دپاکي میني رېښتیني عاشق بولي او د خدای په مینه کي ډوب دی . اود تعصب او ځان ستاینې څخه کرکه لري او د ورورولي، انساني مناسباتو او دنیوي اوآخروي نیکمرغیو لارې چارې خلکو ته ور په ګوته کوي . لکه چي وايي :

**زه عاشق یم سرو کار مي دی له عشقه نه خلیل نه داودزی یم نه مومند**

**اویاوایي:**

**دا دنیا خدای له عشقه پیدا کړې دجمله وو مخلوقاتوپلار دی دا**

**اویاوایي:**

**په هر دم کي نوې نوې تماشي کړم زه رحمان د خدای وکړه وته حیران یم**

**اویاوایي:**

**هیڅ تغیر او تبدیل نه لري رحمانه تل تر تله بر قرار دی رب زما**

**او یاوایي:**

**که محنت که مشقت دی خو د دین دی په کار نه دی بل محنت په دا دنیا**
**بې له خدایه هر چي دي همه فاني دی که لذت دی که زینت په دا دنیا**

**اویاوایي:**

**چي په ورځ د شیخۍ لافي کړې رحمانه! په شپه مې له میفروشه غواړې ولې؟**

**اویاوایي:**

**بد په بدو پښیماني کاندي رحمانه! ته په خپلو بدو نه شوې پښیمان ولې؟**

**او یا وایي :**

**دوست دشمن د سړي واړه خپل عمل دی هم په دا مقدار يي اجر موی په موی شي**

**او یا وایي :**

**د اوبو اصل له خاورو پیدا کیږي خاکساران دخاکسارانوآبروی شي**

**اویاوایي:**

**دوباره دې راتله نشته په دنیا نن دې وخت دی که دروغ کړې که رښتیا**

**اویاوایي:**

**دا دنیا ده بې وفا بې وفا ده بې بقا**

ketabton.com - The Digital Library

**اوياوايي:**

**نور عالم که د دنيا غمونه کاندي — درحمان سره دې غم دآخرت وي**

عبدالرحمان بابا يو تکړه اديب، ديني عالم او د روحاني دنيا مشر و. د رحمان بابا له نوم او روحاني شخصيت سره زموږ خلک او په تيره بيا ټول پښتانه آشنا دي .
محمد هوتک په خپل يو مشهور اثر کې، چې پټه خزانه نوميږي د رحمان بابا د پيژندګلوی په هکله داسي ليکي :
(رحمان بابا د فقهي اوتصوف کتابونه پخپله سيمه پيښور کي له محمديوسفزي څخه لوستي او بيا دلوړې زده کړې لپاره کوهاټ ته تللی دی، ډير علوم او مروجه کتابونه يې هلته ولوستل پس له لوستلو څخه يو لوی عالم شو.)
وايي چې : رحمان بابا په کوهاټ کې د اسلامي او ديني تعليماتوتر څنګ داروابناد حاجي بهادر کوهاټي (رح) چې يو روحاني شخصيت و، طريقه او لاس نيوی کړي دی،
رحمان بابا وروسته له زده کړې څخه بيرته خپلي سيمي پيښور ته راغی او په (هزار خانی) کي ميشت شو او د ژوند تر پايه هلته اوسيدو.
هغه دکوچينوالي څخه لوړ ادبي استعداد درلود، او په څورلس کلنی کي يې په شعر ويلو پيل کړی دی. ويل کيږي : هغه وخت چې رحمان بابا ته د شعر الهام وشواودی په حقيقي عشق پوه شو، ده دنيا پريښوده او دنيايي کارونو ته يې شا کړه، د خلکو او ټولني څخه لرې ګرځيدو. وايي چې : ده به تل ژړل او د ده ژړا د حقيقي عشق دسوز له عمله وه اوپه تل پاته توګه يې پر مخ د اوښکو ويالي رواني وې ، ملګرو او دوستانو به يې هميشه اوښکي تر سترګو جاري ليدلې.خوځو موده وروسته يوشمير عالمان،روحاني واعظان او د دين مرشدان ده ته ورغلل او د ده نه يې غوښتنه وکړه چې د خلوت څخه راووځي اودخلکواوټولنيزوخدمتونو لپاره ځان تيار کړي .

د ده دا بيتونه ګورو چې وايي :

**زه رحمان ديار په غم کي هسي ډوب يم — چې هيڅ نه وينم په سترګو مګر دی**

**اوياوايي:**

**زه يې وينم درست جهان په تا مين دی — که بادشاه دی د دې دور که ګدا**

**اوياوايي:**

**اې رحمانه لکه ته چې په خدای ګرم يې — بل به نه وي په جهان کې هسې ګرم**

**اوياوايي:**

**زه رحمان دخپل صاحب په رضا زيست کړم — څه پکار دی بنده بې خپله صاحبه**

**اوياوايي:**

**رحمان هسي ګوښه خوند له خلقه بيا موند — چې هرګز نه دی دا خوند موندلی خلق**

**اوياوايي:**

**زه رحمان کناره خوښ وم له عالمه — بارې ستا سترګو رسوا کړم په عالم کې**

**اوياوايي:**

**اوښکي نه لري حساب زما د سترګو — بې حسابه شو سيلاب زما دسترکو**

ketabton.com - The Digital Library

**اویاوایي:**
**د رحمان اوښکې به څرنګ په قرار وي　　　　چا لیدلی دی دریاب په قرارۍ کې**

**اویا وایي :**
**هومره اوښکې مې بهیږي په رخسار　　　　چې غرقاب مې هم ګریوان دی هم رخسار**

**اویا وایي :**
**یو عاشق دې څوک راوښیي په عشق کې　　　　چې یې رود په مخ د اوښکو روان نه دی**
**هومره اوښکې د عاشق په ګریوان ووري　　　　ته به وایې چې یو سیند دی ګریوان نه دی**

**اویا وایي :**
**ستا له غمه مې په مخ باندې ولې دي　　　　لږ مې وپوښته له حاله چې ولې دي**

**اویاوایي:**
**یار د یار له سترګو اوښکې پاکیزه کا　　　　تا دریاب کړې زما اوښکې په یارۍ کې**

**اویا وایي :**
**چې په وصال کې یې اوښکې نه وچیږي　　　　ترو به حال درحمان څه وي په هجران کې**

**اویا وایي :**
**یاره ستا په جدایۍ او په ډیر غم کې　　　　سیند داوښکو درومي په رخسار زما**

**اویا وایي :**
**ترخې اوښکې دعاشق آب ونمک دي　　　　خدای دې نه کاڅوک بې آبه بې نمکه**

**اویا وایي :**
**دا څه اوښکې نه دي چې بهیږي له چشمانو　　　　ق وینې دي بهیږي د زړګوتې له پرهاره**

**اویا وایي :**
**ای رحمانه اوښکې هم له تخمه دباران دي**
**کښت د هغه شین شوچې ګریانې لري سترګې**

**اویا وایي :**
**هیڅ اثر د رحمان اوښکې په یار نه کا　　　　خدای دې اوښکې دچا نه کا بې اثره**

**اویا وایي :**
**ستا د مینې ګوهر نشته په هر آب کې　　　　مګر بیا موندشي د اوښکو په دریاب کې**

له دغو بیتوڅخه داسې جوتیږي چې دی یو دیني او روحاني عالم و، او دخدای(ج) په عبادت او ریاضت بوخت و.ده داسلامي تعلیماتو اونظریاتو څراغ تل بل ساتلي و.دی د تقوا اوپرهیزګارۍ روښانه سمبول وه . ده د خدای(ج) په مینه اومحبت کې ډیر

ketabton.com - The Digital Library

خوندور شعرونه ويلي دي، همدا وجه ده چي تولو خلكو په تيره بيا پښتنو دهغه په درويشي اوفقيري اورواني طبع هوكړې ده، او دده په هرنصيحت، پند، قول اوقرار اعتقادلري . دی دپښتنو په منځ كي د عزت، درناوې اود قدراوستاينې وړ شخصيت په توګه پيژندل شوی دی، اود(بابا) په درانه لقب منلي شوې دی .
دی په خپلو شعرونو كي دالله (ج) سره خپله مينه داسي بيانوي :

ګوره هسي كردګار دی رب زما — چي صاحب دكل اختيار دی رب زما
همګي بزرګواران چي ځوک يې وايي — تر همه و بزرګوار دی رب زما
نه يې هيڅ حاجت په چا باندې موقوف دی — نه د هيچا منت بار دی رب زما
له نيستۍ يې دهستئ صورت پيدا كا — هسې رنګ پروردیګار دی رب زما

...................................................................................................
......................................................................................................

او يا وايي :

په نامه دهغه خدای مي دا بيان دی — چي يو نوم يې په نومونو كي سبحان دی
هم بادشاه دی دجمله ؤ بادشاهانو — هم د هر يوه سلطان په سر سلطان دی
هغه كار چي و هر چا وته مشكل وي — هغه كار واړه و ده و ته آسان وي
ځوک آفتاب شي په آسمان راخيرولی — ده آفتاب راخيرولی په آسمان دی
ځوک دنمر په مخ حجاب شي غوړولی — ده پټ كړی نمر په ابر كي پنهان دی
ځوک په شپه كي شي مهتاب پيدا كولی — ده په شپه كي پيدا كړی ماه تابان دی
ځوک يو ځاځكی پريستی شي له آسمانه دی — نزول كړی ده په مونږ باندې باران
ځوک شي روح ننويستی په يوه ماشي دی — ژوندی كړی ده په روح تمام جهان

..................................................................................................
.....................................................................................................

رحمان بابا يو لوی زاهد، عابد، عالم اود دين مرشد و.دی يوپاک اوسپيڅلي مسلمان و، اود خپل روحاني ژوند سره بوخت و.
اروابناد ګل پاچا الفت، چي زموږ دهيواديو وتلي، تكړه دروند اوپياوړی شاعر اوليكوال دی د رحمان بابا د شاعري اوشخصيت په هكله داسي وايي :
(دخيبر او تيرا له غرونوهغه خوا دپيښور په بهادر كلي كي يو پښتون فقير اوسيده چي خبرې يې شعر او شعر يې حكمت و. رحمان بابا هغه ځوک و چي دغفلت له خوبه د بلبلو په آواز راويښ شو او د زړه مراقبه يې د ګلو له غونچو او غوټيو زده كړه. په زړه كي يي دپاک خدای دمقدس عشق لمبې بلې دي او له ژبې يې سوزان شعرونه را وتل .)
رحمان بابا يو روحاني، ادبي اوټولنيز شهرت لري او دی ديو صوفي مشر په توګه دخلكوپه ذهن او روان كي خپل ځای او مقام تر لاسه كړی دی . د ده زياتره شعرونه
د خدای(ج) په ستاينه كي او دحقيقي عشق په هكله ويل شوي دي .
ښاغلي محمداكبر كركر زموږ دهيواد،پياوړی او وتلی ليكوال اوڅيرنيزپوه شخصيت دی په خپله يوه ليكنه كي(درحمان بابا عشق يعنی څه ؟) ترسر ليک لاندی داسي وايي:
(درحمان بابا په انګليسي ژباړل شوي ديوان كي سريزه ليكونكي داسي باور لري، چي هغه څه چي د رحمان بابا په ديوان كي ډير برجسته او ځرګند دي هغه عشق دی . موږ درحمان بابا په ديوان كي په دې خبره غور وكړ ، د رحمان بابا په ديوان كي په كراتو ځله دعشق كليمه تكرار شويده؟ خو دا عشق يوازې تصوفي او عرفاني عشق نه دی . دا يوه اورده قصيده ډوله

غزل دی، چي مطلع يي ده : په نامه دهغه خدای مي دا بيان دی - چي يو نوم يي په نومونو کي سبحان دی . په دې شعر کي رحمان بابا دخدای توصيف کوي،
دخدای صفات بيانوي چي له يوې خوا شريعت ته نږدې اوله بلې خوا دخالص تصوف او عرفان څخه واټن نيسي . په دې مانا چي په وحدت الوجود کي په عالي او ترانسيندينتال حالت کي صوفي له ځانه بهر کيږي او ځان يا مادی وجود نفي بولي .)

که چيرې د رحمان بابا شعري ديوان ته مراجعه وشي د ده په شعرونو کي دنورو شاعرانو په پرتله زياتره مذهبي او اخلاقي رنګونه، تصويرونه، خيالونه اوژور فکرونه چي د ټولني له روان سره برابر دي ليدل کيږي . د ده مينه دپاک الله (ج) او دانسان لوړ مقام ته او دانساني ظرافتونواو اخلاقو سره په ډير عالي شکل کي څرګنده شوې ده .
دی دنصيحت، پند او عبرت په توګه خلکو ته ديښو او بدې لارې لارښوونه کوي .خپل پيغام،هدف او مقصد دانسانانوپه راوييښولو کي دشعر په ژبه بيانوي .همدا وجه ده چي د دخلکو په منځ کي ستر شهرت پيدا کړی دی . دبيلګي په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

دنيا کښت دآخرت دی — دا خبره ده ربښتيا
ولې مرد پکي هغه وي — چي سخي وي هم پارسا
په دنيا کي بدي نشته — که بدي نه وي له تا
په دنيا کي خطا نشته — که له تا نه وي خطا
دنيا بحر دی بهيرې — آينې غوندې صفا

اوياوايي:

دنيا بده دهغو ده — چي يې کسب وي ريا
يا يې کسب دريا وي — يا يې وګټي په غلا
يا يې ټوله کا په ظلم — يا دخمر په سودا
حق باطل کا، باطل حق کا — په سبب دروې ريا
ګوش او هوش يې هرګز نه وي — دمظلومو په ژړا
بتخاني و ته يې مخ وي — و مسجد وته يې شا
اختلاط کا له بدانو — له نيکانو وي جدا
و رحمان ته پيښه مه کړه — خدايه هسې رنګ بلا

اوياوايي:

د ځوانی عمر دې تير کړ په غفلت کي — په پيری کې به څه زيرمه دمحشر کړې

اوياوايي:

راشه مه کوه له چاسره جفا — لږ ژوندون دی ضايع کيږي بيوفا
په دنيا کي هيڅوک نه دي پاتي شوني — واړه تلوني دي که نن دي که سبا

اوياوايي:

که يو ځله سر د خدای لپاره ټيټ کړې — په قيامت به سر بلند شې تر هر چا
بازار دادی که څوک سود او سودا کاندي — په هغه جهان نه سود شته نه سودا
آشنايان که څوک پوهيږي نن يې وخت دی — چي ځاريږي يو آشنا تر بل آشنا
که ژوندون دی خو همدا دی په جهان کي — چې له چا سره تيريږي په خندا

اوياوايي:

که مقصود لرې تلوار کړه وخت کوتاه دی — غره مه شه د دې عمر په بقا

ketabton.com - The Digital Library

اویاوایي:
سر دننه په ګریوان کړه سترګې روښې
ډیر په پورته پورته مه ځه سرهوا

اویاوایي:
سر هوا سرهوا مه ځه و آسمان ته
ته په اصل کې له ځمکې یې پیدا

یاوایي:
انسانیت په ډیردولت نه دی رحمانه
بت که جوړ شي دسرو زروانسان نه دی

اویاوایي:
عالمان دي روښنايي د دې دنیا
عالمان دي د تمام جهان پیشوا

اویاوایي:
که څوک لار غواړي خدای هم ورسول ته
عالمان دي د دې لارې رهنما

اویاوایي:
ریاضت په  قیامت نه شي مرد هغه دی
چې یې وکړ ریاضت په دا دنیا

اویاوایي:
زه رحمان له هغه علمه پناه غواړم
چې له دینه له مذهبه وي سیوا

اویاوایي:
که نظر کا څوک په کار د درویشانو
خود به ویني وقار د درویشانو

اویاوایي:
چې مدام د بل وعیبو ته نظر کړي
خدای د خپله عیبه ولې بې خبر کړي

اویاوایي:
ضدیت د سړي عمر په عذاب کا
په کار نه دی ضدیت په دا دنیا

اویاوایي:
که بلنده مرتبه دچا په کار وي
لوی مقام دی عدالت په دا دنیا

اویاوایي:
چې تقوا دیانت نه لري رحمانه
د دې هسې همنیشین مه شه

اویاوایي:
په هر غم کې خاموش اوسه او که نه وي آزارکړې
د بد خواه خاطر به ښاد دوست به

اویاوایي:
صبر ونیسه په مخ کې مراد غواړه
په تلوار به هیڅ ونه کړې که تلوار کړې

اویاوایي:
د بې دردو  همدمي به دې بې درد کا
د نامردو  همدمي به دې نامرد کا

اویاوایي:
چې دشمن یې وي له دوسته اړولی
د هغو احتیاط بویه له کومکه

اویاوایي:
چې یکسان ګوري هم شاه وهم ګداته
هسې یار دی د رحمان غریب نواز

ketabton.com - The Digital Library

اوياوايي:

بل ارمان به له جهانه يوړ نه شي — مګر مهر محبت په دا دنيا

اوياوايي:

نيک کردار هم نيک عمل خويونه — هم جنت دی، هم راحت دی په دا دنيا

اوياوايي:

آدم زار په معني واړه يو صورت دي — څوک چې بل آزاروي هغه آزار شي

اوياوايي:

که ته نکړې په بل چا باندې غرض — بل به هم نه کا په تا باندې غرض

او داسې نور نصيحتونه،عبرتونه او پندونه ............................

ارواښاد پوهاندصديق الله رښتين چې يو نوميالې، درونډ، او مخکښ ليکوال دی، په خپله يوه ليکنه کې د رحمان بابا د شاعرۍ په هکله داسې وايي :

(رحمان بابا د پښتو شعر او ادب هغه ځلانده ستوری دی چې د لرې او برې پښتونخوا په آسمان کې يو شان ځليږي . د ده خوږ نوم يا دده دلوړې شاعرۍ احترام دده روحاني او ملکوتي غږد ټولوپښتنوپه زړونوکې يو رنګ موجود دی .)

د رحمان بابا کلام رنګين، عام فهمه، سليس، روان اونازک خياله دی . د ده په کلام او شاعرۍ کې هر ډول شعرونه موجود دي اود هر چا په ذوق برابر مطالب لري . دده په شعرونو کې ديني، علمي ، ادبي ، اخلاقي او ټولنيز مسايل، بشري مناسبات ، انساني صفتونه لکه : لوړ اخلاص، رښتيا اوصداقت،عدالت، علم اوپوهه ، تقوا اوعبادت، صبر او زغم، قناعت، نيکې ښيګڼې، متانت،سخاوت، زحمت اورياضت، عزت، ميړانه او لوړ همت،ننګ اوغيرت، ځان غوښتنه اوتنګ نظري،کبر اوغرور، کينه، غيبت ، حسادت اوکرکه ،اتحاداو اتفاق، وروروليي، آزادي اوخپلواکي، ظلم اوستم او داسې نور خصايل، په ډير انساني اواسلامي فکرونو، تصورانو اوخيالونو کې په ډيره خوندوره او ساده ژبه او په ډير عالي مفاهيمو اومعناګانو کې بيان شوي دي .

دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

ګوره څه بلند مقام دی داخلاص — چې جهان واړه غلام دی داخلاص

اوياوايي:

پس له مرګه به دا مهرواخلاص نه وي — که اخلاص کړې نن هنګام دی داخلاص

اوياوايي:

څه عجب دی که مستان ترې چاپير ناست وي — هر ساقي څخه چې جام دی داخلاص

اوياوايي:

د رحمان کلام په دا سبب شيرين دی — چې يې هر کلام، کلام دی داخلاص

اوياوايي:

که څوک فخر کا په ننګ او په ناموس — دا په عشق کې نه ارزيږي يو فلوس

اوياوايي:

معنوي صورت پيدا کړه که ميره يې — فايده څه ده د بتانو له اشخاص

اوياوايي:

ketabton.com - The Digital Library

که د ونې په څیر ګل او میوه غواړې څان په نمر کړه سایه بان د هر خاکسار شه
اویاوایي:
که هوا دې د جنت په خاطر ګرځي خاک نشین په آستانه د هغه یار شه
اویاوایي:
هغه زړه چې عرش الله دی ګوره کوم دی کړه ځو دې توان شي د جمله زړونوخدمت
اویاوایي:
که دلمر په څیر څرګند شې په جهان کې یې څو په زړونوپسندیده نه شې لا ورک
بزرګي په دلجویۍ کې ده دخلکو ته چې خلک ډوبوې څرنګ بزرګ یې
په لویې کې لویې چیرې ده لایقه کمینی وته متې کړه که سالک یې
اویاوایي:
په ساحل کشتی د هیچا نه ډوبیږي که څوک نه کا په دریا باندې غرض
اویاوایي:
خلوتیان په خپل خلوت کې فراغت دي درسوا دی په رسوا باندې غرض
اویاوایي:
که له خپله عیبه ځان ژغورې رحمانه دهیچا له عیبه مه کوه پوښتنه
اویاوایي:
که یوه جودانه عیب وینې په بل کښې هغه یو جودانه عیب یې لوی غر کړې
اویاوایي:
کوهی مه کنه دبل سرې په لار کښې چیرې ستا به دکوهی په غاړه لار شي
اویاوایي:
ته نا حق په ما کینه کړې کینه ناکه په کینه به آیینه نه کړې ته پاکه
اویاوایي:
که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی ګنه نشته بل نعمت په دا دنیا
اویاوایي:
بل ارمان به له جهانه یوړ نه شي مګر مهر ومحبت په دا دنیا
اویاوایي:
په آزار دچا راضي مه شه رحمان! که خلاصی په قیامت غواړې له عذابه
اویاوایي:
چې نیکي بدي په تله کې تلل شي خود پخپله تله واخله عدالت کړه
اویاوایي:
دظالم د آشنایي توبه توبه د خود بین له بینایي توبه توبه
اویاوایي:

ketabton.com - The Digital Library

که دې ویره شي له ظلم له ستمه — ته هم مکړه په هیچا باندې ستم
اویاوایي:
له اغیار سره خندا څه په کار نه ده — له اغیار سره سودا څه پکار نه ده
سل یارئ دیوه یار دپاره کړی شي — آشنایی د هرآشنا څه پکار نه ده
بد له بدو سره بویه نیک له نیکو — دجفا په ځای وفا څه پکار نه ده
هر بلبل به دې ثنا کړي که ته گل شی — په خپل ځان خپله ثنا څه پکار نه ده
اویاوایي:
آشنایان که څوک پوهیږي نن یې وخت دی — چې ځاریږي یوآشنا تر بل آشنا
اویاوایي:
زهر ښه دي که په صلح اوصلاح وي — نه شکرې په فتنه او غوغا
اویاوایي:
چې د ورور اوعزیز زړه پرې آزار شي — حاصل مه شه هغه خپله مدعا
اویاوایي:
لکه ځان هسې وبل وته نظر کړه — لکه ستا دی هسې ځان دی دهر چا
اویاوایي:
د ډیر ناز او د ډیر کبر له سببه — عمل نه کا په گفتار داولیا
اویاوایي:
چې عزت حرمت یې نه وي په جهان کې — هغه هسې ژوندون وسوزه په اور
اویاوایي:
بی عزت سړی به خوښ دهیچا نه وي — مگر هسې بې عزت وي ځینې نور
اویاوایي:
دراز عمر مې حاصل شو له راستئ — لکه سرو مدام سبزه تازه یم
اویاوایي:
و هر چاته په خپل شکل څرگندیږم — آینه غوندې بی رویه بی ریا یم
اویاوایي:
که دډیر عمر پکار دی غفلت مه کړه — په اوده باندې سل کال یوزمان شي
اویاوایي:
په ښه خوی له بدخواهانوبې پروا یم — په نرمې لکه اوبه د اور سزا یم
اویاوایي:
نیک له نیکو سره بویه بد له بدو — که څوک غواړي ولایت په دا دنیا
اویاوایي:
روښنایي په هغو زړونوده حرامه — چې پرې کیني گرد غبار د دې دنیا
اویاوایي:
په یوه گړئ بهار وي بیا خزان شي — بقا نه لري بهار د دې دنیا
اویاوایي:

ketabton.com - The Digital Library

د قانع  تر  قناعته صدقه شه　　　هم دنیا او  هم دینار د دې دنیا
اویاوایي:
مګر خود په خپله خدای دچا طبیب شي　　　ګنه نشته په جهان کې بل طبیب
اویاوایي:
دشمن هم د سړي کله کله دوست شي　　　دوستی نه کا له رحمان سره حبیب
اویاوایي:
د ریا له زاهدی زما توبه　　　چې یې کاندي ځوک په رسم وپه عادت
اویاوایي:
په ورځ پنداو نصیحت وایي و بل ته　　　په شپه ناست وي د مغان پر خرابات
اویاوایي:
دین یې دام دی ددنیاپه لارکې ایښی　　　پرې را اړوي وحشیان د مخلوقات
اویاوایي:
دهغو په لور یې سترګې وي ختلې　　　چه په لاس یې سرسایه وي یا زکات
اویاوایي:
دعوی مه کړه په نا حق به یې خپل نه کړې　　　پردی شهر، پردی ملک، پردی دیار
چې استوګنه په پردي وطن کې کاندي　　　هغه نه لري د هیڅ واک واختیار
که هزار قسمه  وخوري  په یو کار کې　　　نه کا ځوک په مسافرو اعتبار
اویاوایي:
چې په زور  ورسره نه یې برابر　　　د هغو تر ځنګه مه کښینه زړور
زورور  اور  او  اوبه دي فهم وکره　　　چې ډوب نه شې یا ونه سیزی بشر
په یاری د زورور  غلط مه شه　　　مګر دا چې ترده نه یې زورور
اویاوایي:
دا خو ته یې زما نفسه　　　چې دې زه کړم کور وکر
اویاوایي:
په شپه وینې د مظلوم خوري　　　سبا کیني په منبر
اویاوایي:
په زړه تور لکه تبې وي　　　په مخ سپین لکه قمر
اویاوایي:
رحمان هسې بې وقوف سوداګر نه دی　　　چې د دین متاع بدله په دنیا کا
اویاوایي:
راشه مکوه له چا سره جفا　　　لړ ژوندون دی ضایع کیږی بې
وفا
اویاوایي:
خدای طاعت، عبادت څه کوي رحمانه　　　خو یې مینه د سړي ده ازمیل یې
اویاوایي:

ketabton.com - The Digital Library

د خليل تر كعبې دا كعبه ده لويه ... كه آباد كا څوک ويران حرم د زړهء
اوياوايي:
ګونګې ښه دي چې بی کام و بی زبان وي ... نه چې ژبه شي په بد ويل ګويا
اوياوايي:
سر د ننه په ګريوان کړه سترګې روښې ... ډير په پورته پورته مه ځه سر هوا
سر هوا سرهوا مه ځه و آسمان ته ... ته په اصل كې له ځمكې يې پيدا
اوياوايي:
د دنيا كارونه واړه غولول دي ... دا ګومان په هيچا مه كړه چې مي خپل دي
اوياوايي:
له سړيه غرض واړه سړيتوب دى ... نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس
اوياوايي:
په آدم كې د حيوان خويونه هم شته ... بيا هاله يې آدم بوله چې آدم شي
اوياوايي:
احتياج هسې بلا دى په جهان كې ... چې پلار زوى كاندى د زوى او زوى د پلار
اوياوايي:
ما ديار په بېلتانه كې دي ليدلي ... كه دانا د زماني وي مبدل شي
اوياوايي:
هر وګړى چې منصور غونډې په دار شي ... دار يې پس له مرګه نخل ميوه دار شي
اوياوايي:
دنيا دار كه مستغني په سيم و زر دى ... هنرمند و څخه ګنج دخپل هنر دى
بيهوده به زورور وځانته وايي ... د دنيا سړى كه هر څو زورور دى
هسې مه وايه چې زه يم په جهان كې ... پيدا كړى خداى د سر دپاسه سر دى
اوياوايي:
هر علم چې بيعمله وي تش بوس دى ... د جاهل د پارسايي توبه توبه
اوياوايي:
علميت د بى عمله عالمانو ... لكه ګنج د كتابونوپه خر بار شه
او داسي نور بيتونه ..............................................................................

په رښتيا سره د رحمان بابا دشعرونواو ويناګانو ارزښت، خوږوالى، دروندوالى، ريښتينوالى، علميت،تجربه او روحانيت دومره شهرت تر لاسه كړې دى، چې په لره او بره پښتونخوا او افغاني سيمو كې د ده روحاني، علمي، تصوفي ،عرفاني اومذهبي شخصيت ته د عزت، عقيدت او درناوي په توګه خلک ګوري، او د ده شعري ديوان د خلكو په منځ كې دفال نيولې شهرت تر لاسه كړې دى ، او دهغه په ويناګانو، نصيحتونو اوپندونواكثريت خلک عملي ګامونه پورته كوي، او په ورځنيو خبرواترو كې دده دشعرونواو كلام نه د متلونو په بڼه ګټه پورته كوي .

اروابناد عبدالروف بينوا چې زموږ دهيواد تكړه، نامتو،نوښتګر، ادبي اوفرهنګي شخصيت دى، په خپله يوه ليكنه كې د رحمان بابا دشاعرۍ په هكله داسي وايي :

ketabton.com - The Digital Library

(د رحمان بابا د اشعارو یو لوی صفت دادی چې د هرچا په ذوق سره سم مطالب لري او دهر چا د تنهايي ملګری وي . په پښتنو کې به ډير داسې کم کور وي، چې د رحمان بابا ديوان هلته نه وي .)
رښتيا داده چې د رحمان باباعالي او لوړ فکرد ده په شعر او کلام کې دومره خوږ او اغيزناک دی،چې هر څوک ځانته په کې خپل هدف، مقصد، درد، تصوير، خيال او انځورپه ډير ښکلي اوظريفانه شکل پيدا کوي .
- صوفي او عارف دواړه په کې د تصوف او عرفان د اسرارو او رمزونو مرغلرې او دمعرفت او د معنوي دنيا وړانګې ويني اوپرې خپلو روحاني حالاتونه وده ورکوي . دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

**که څوک وايي هنر کوم دی؟ وايه دادی** — **چې بې خدايه نوره مينه په چا نه کا**

**او يا وايي :**

**هيڅ تغير او تبديل نه لري رحمان** — **تل تر تله بر قرار دی رب زما**

**او يا وايي :**

**دا پنځه ورځې ژوندون چې غنيمت دی** — **شکرانه په دا نعمت دکردګار کړه**

**او يا وايي :**

**دا همه واړه حجاب دي چې ليده شي** — **نور دحسن بالاتر دي له ادراکه**

**او يا وايي :**

**په هر دم کې نوې نوې تماشې کړم** — **زه رحمان د خدای وکړه وته حيران يم**

**او يا وايي :**

**چې مې ستا د جمال عکس دی ليدلي پخپل ځان کښې**
**هم په دا دآيينې په څير حيران دی زما روح**

**او يا وايي :**

**په رحمان باندې نظر د کرم وکړې** — **اې چې يې د پاک الله په دربار خاص**

**او يا وايي :**

**چې وصال دخپل جانان مې دی موندلای** — **ګنج د درو د مرجان مې دی موندلای**

**او يا وايي :**

**څه عجب دی که تمام جهان زما شي** — **چې بادشاه د درست جهان مې دی موندلای**

**او يا وايي :**

**درست جهان که واړه ما رحمان لره دلبر شي** — **چيرې دی دلبره بې له تا بل دلبر زما**

**او يا وايي :**

**که دا نور ښايسته ستوري ويل کېږي** — **ته خورشيد غوندې صورت لری عيان**

**او يا وايي :**

**د آفتاب په مخ کې هره ورځ زوال وي** — **ستا دحسن په آفتاب کې زوال نشته**

**او يا وايي :**

**څو دې دوه سترګې غړيږي په جهان کې** — **ننداره په هر ساعت د خپل نګار کړه**

**او يا وايي :**

**زه يې وينم درست جهان په تا مين دی** — **که بادشاه دی د دې دور که ګدا**

**او يا وايي :**

**وهر چا وته چې ستا قوت رسېږي** — **هلته نه رسي قوت د درست جهان**

**او يا وايي :**

**زه رحمان چې ستا د حسن ثنا خوان يم** — **ستا له رويه درست جهان زما ثنا کړه**

**او يا وايي :**

**که له دره يې شړې که يې پريږدې ته** — **ډير مين دی ستا پرمخ عبدالرحمان**

ketabton.com - The Digital Library

او يا وايي :

عشق څه هسي علم نه دی — چي حاصل شي له مکتبه

مکتب حال د مذهب وايي — عشق سيوا دی له مذهبه

او يا وايي :

می خواران که يي خبر شي له مستی نه — د رحمان د ميخاني شراب دڅښنو دي

او يا وايي :

هسي بی شرابو مست يم ستا په مينه — چي خبر نه يم په ځمکه په آسمان

او يا وايي :

د رحمان په عاشقی به آفرين کړي — که لږ مخ په آينه کړې ځان وګوري

او يا وايي :

زه رحمان دعشق په درد کي هسي خوښ يم — چي مي نشته په دوا باندي غرض

او يا وايي :

سپيني اوښکي زير رخسار دميني له دولته — ای رحمانه دا دعاشقانو سيم و زر دي

او يا وايي :

که چا لار دعاشقی وي ورکه کړي — زه رحمان دګمراهانو رهنمايم

او يا وايي :

خپل جانان مي هسي نقش دی په زړه کي — نه پوهيږم چي رحمان يم که جانان يم

او يا وايي :

زه رحمان دهغه حسن دعا ګوی يم — چي جرګه دعاشقانو وي پري پنډه

- كه عاشق دى په كي دپاكي اوسپيڅلي ميني ناز، راز اونياز، حسن اوجمال،دطبيعت دمناظرو هنري ښكلا، خلوص، محبت اودخپلو ريښتينو احساساتو او عواطفو
تصويرونه او خيالونه ګوري .دبيلګي په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

او يا وايي :

مخ ديار شمس وقمر دري واړه يو دي — قددسرو صنوبر دري واړه يو دي

حاجت نلرم په شهدو په شکرو — لب ديار شهدوشکر دري واړه يو دي

او يا وايي :

په شرابو کي خوند نشته د شکرو — ديار شونډي هم شراب دي هم شکر

او يا وايي :

که سل ځله پټ تر شونډو لاندي خاندي — نه پټيږي آب دلعل ودګوهر

او يا وايي :

هغه شونډي چي خوږي دي تر شکرو — له کنځلو يي عار نه کا عاشقان

او يا وايي :

چي څوک نوم دا ستا دشونډو په خولهء واخلي

که يي زهر وي په خوله کي عسل شي

او يا وايي :

هغه شونډي چي شيريني وي تر قندو — ما هيڅ فيض تری بيا نه موندبي کنځلو

او يا وايي :

چي لذت يی د سرو شونډو وي موندلی — نوره مينه د شرابو په جام نه کا

ketabton.com - The Digital Library

او يا وايي :

که پکار دې دسرو شونډو شيريني وي | د خپل ځان په وينوسور لکه انارشه

او يا وايي :

چې مې نقش په زړه سرې شونډې ديار شوې | کان دلعلو شو گرداب زما دسترگو

او يا وايي :

تا چې رنگ دميو ورکړو ولبانو | اور يې پورې کړ په کور د ميخورانو

او يا وايي :

په هر ځاى چې ستا دلبو نام آغاز شي | د لاله ؤ باران اوري په حباب کې

او يا وايي :

د پيزوان غمى دې زيب کا پر لبانو | دواړه زلفې دې چورى د ملنگانو

تور اوربل دې لکه مارپه جبين پروت دى | شينکى خال دې مواصل د رنځورانو

او يا وايي :

چې دې جوړه کړه لينده دکړو وروځو | ځو به ښکار کړې په حرم د غزالانو

او يا وايي :

د سروتيک دې شهزاده په جبين پروت دى | شينکى خال دى محصل په بنديوانو

او يا وايي :

مشکين خال دى په سرو لبو هسى زيب کا | لکه مهر په محزن د درمرجانو

او يا وايي :

ما دعشق په درس کې نور څه لوستي نه دي | بې دزلفو، بې له خطه بې له خاله

او يا وايي :

که دې زلفې په مخ پيچوتاب شوي ښايي | وينبته څه طاقت لري داور له تابه

او يا وايي :

که په توره تاريکى کې رڼا غواړې | ننداړچي د يار د زلفو د رخسار شه

او يا وايي :

لاس مې وتړىء د زلفو په طناب | بيا مې وپلورىء د سترگو په قصاب

او يا وايي :

هسې آب يې دى د دوو سترگو په تيغ کې | چې بې سره په سر نه لري حباب

او يا وايي :

چې راياد يې سرې شونډې سور پيزوان کړم | تر چشمانو مې بهيږي سرهء شهاب

چې دمخ و آب وتاب ته يې نظر کړم | راته هيڅ شي دگلونوآب وتاب

او يا وايي :

دا کاږه کاږه باڼه او کږې وروځې | نور څه نه کا بې کږو کږو وهلو

او يا وايي :

په شپه نوکي دعاشق په وينو سرې کا | سبا پورې کا نکريزې په منگلو

او يا وايي :

مستوري راڅخه يوړه مستو سترگو | رحمان ځکه په وگړيو کې رسوا شوم

او يا وايي :

يا دا ستا چشم ابرو وينم په خواب کې | يا مستان دي ويده شوي په محراب کې

او يا وايي :

هغه سترگې چې نرگس وي هم بادام وي | تېرې تورې شوې زما په قتلولو

ketabton.com - The Digital Library

**او يا وايي :**

**ستا دى خواب آلودو سترګو خواب راڅخه يووړ          لبو دى لذت د ميوناب راڅخه يووړ**
**نه مي اوښکې پاتې شوې نه صبرپه صورت کې          ډيرې بې صبرى دمخ آب راڅخه يووړ**

- عالم په کې دعلم او پوهې مالومات لټوي ، اوخپل علمي تصورات اوتفکرات غني کوي . دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

**مه دروهه رحمانه په خلاف د داناپانو          مينه د دنيا پسندلې نه ده هيڅ دانا**

**او يا وايي :**

**د دانا و دنادان تر ميان يو حد دى          هوښياري تر حد پورته حماقت وي**

**او يا وايي :**

**تر هغه به نادان بل په جهان نه وي          چې څوک مهر وفا غواړي په نادان کې**

**او يا وايي :**

**عاقلان په وړاندې ځي په ورستوګوري          په دنيا کې سر انجام د آخرت کړه**

**او يا وايي :**

**پوه خلک هغه دي چې اقرار په ناپوهى کا**
**هر چې ځان هوښيار ګڼي هوښيار يې مه ګڼه**

**او يا وايي :**

**زه رحمان حلقه بګوش د هر عالم يم          که اعلى دى که اوسط دى که ادنا**

**او يا وايي :**

**عالمان دي روښنايي د دې دنيا          عالمان دي د تمام جهان پيشوا**

- که دميني د دردرنځور او دردمن او ناقراره دى په کې د خپل زړه ټکور او قراري پيدا کوي .
دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

**د رحمان وزيري رنګ وته نظر کړه          چې مدام په تا پسې کاندي ژړا**

**او يا وايي :**

**عاشقانوپه شکست کې برى بيا مونو          دلته توان دهغه رسي چې ناتوان شي**
**زيرى رنګ دعاشق هسې مرتبه ده          چې آفتاب غوندې څرګند په درست جهان شي**
**له چشمانو يې باران درحمت ووري          زرغونه يې په څهره باندې زعفران شي**
**له رخساره حال د زړونومعلوميږي          له بهاره نيک وبد دکال عيان شي**

**او يا وايي :**

**زه رحمان دزماني له جوره دروهم          خپل صاحب لره په داد او په فرياد**

- مطربان او که مستان دي په کې دسوز او ګداز ډکې سندريزې نغمې دموسيقي په پردو کې غږوي، او مستان خپل آواز ورسره داسې جګوي . دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

**دساقي په لاس کې جام دميو ناب دى          مطرب ايښى په زنګون دغم رباب دى**

**او يا وايي :**

**محتسب په رقص ګډ شوباک يې نشته          صوفي پروت په ميخانه کې مست خراب دى**

**او يا وايي :**

**په تلخۍ دميو مست خلق مي خوښ دي          هغه خار چې بوى دګل لري خار نه دى**

**او يا وايي :**

**هرساقي چې جام دعشق لري په لاس کې          دا پياله يې په مستانو ده مباحه**

ketabton.com - The Digital Library

او يا وايي :

هر مطرب چې غوږی تاو کا درباب — په دا تاوکي زما زړه کاندي خراب
چې سامعی يې په نغمه په ترانه شم — ديوانه شم ګريوان څيرې مست خراب
هم يې تار، هم يې ګفتار هسي اثر کا — چې هيڅوک يې نه طاقت لري نه تاب

او يا وايي :

زړهء مي په نغمو نغمو سوری کړ مطربانو — عقل ساقيانوپه شراب راڅخه يووړ
يو ساقي بل يار دريم مطرب سره يو ځای شول
زړه يې له ګوګله په شتاب راڅخه يووړ

- ملي شخصيتونه، مشران اوسياستوال په کې د خپلو ملي پاخونونو او غورځنګونو اتحاد اواتفاق، او دخلکو غيرت ، همت او شهامت راپاروي .

دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

بيخ بنياد به دهغوی وي په ياری کې — چې د تن په نابودی يې اعتقاد وي

او يا وايي :

ښايسته ياران ګلونه دي رحمانه — بې‌لتانه کړه اکثرمړاوی کم تازه

او يا وايي :

که پر غره پر سمه ګرځم باک مي نشته — زمری تل ګرځي په لوړه په ژوره

او يا وايي :

وړانديني هم واړه ستاپه څير سړي وو — ته هم پاځه د هغو په څېر همت کړه

او يا وايي :

چې په ننګ وپه ناموس تر لوره کم وي — صدقه شه نا قابله زوی له لوره

او يا وايي :

ننګيالي تربرونه ښه دي او که نه وي — ننګيالی ترله هم ښه ده له تربوره

او يا وايي :

هغه زړه به له طوفانه په امان وي — چې کشتۍ غوندې دخلقو بار بردارشي

او ياوايي:

کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي — اغزي مه کره په خپو کې به دې خار شي

- هغوخلکوچې دنيا يې پريښې ده او له دنيا څخه لاس په سر شوي دي په کې دځان لپاره خوشحالي پيدا کوي .

دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

دا دنيا په احمقانو ده ودانه — دانا څه کا په دنيا باندې غرض

او يا وايي :

دنيا کل په احمقانو ده ودانه — دانا ځکه وابستګی د دنيا نه کا-

- مبلغين، واعظان او خطيبان په مدرسو اوجماتونو کې په خپلوويناګانوکي د ده دشعرونو نه د يومنل شوي اصل په توګه ګټه پورته کوي .

دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

رحمان هسي بی وقوف سوداګر نه دی — چې د دين متاع بدله په دنيا کا

او يا وايي :

زه رحمان له هغه علمه پناه غواړم — چې له دينه له مذهبه وي سيوا

او يا وايي :

ای رحمانه که څه کار دی خو د دين دی — نور کارونه بی وفا دي بی اساس

او يا وايي :

واړه بې وقوف دي که څوک دين په دنيا پلوري — چېرته پنځه ورځې چېرته عمر جاودان

ketabton.com - The Digital Library

**او یا وایي :**

**نور عالم که د دنیا غمونه کاندي　　　　له رحمان سره دې غم د آخرت وي**

درحمان بابا شعر اوکلام ډیر ساده او آسان معلومیږي، خو دلوړومفاهیمواوژورو
معناګانونه ډک دی، اوملي، روحاني اوټولنیزه بڼه لري، او هره حجره، هر مجلس اوهرکور د ده په شعر او کلام روښانه، ځلانده اورنګین دی .
دده په شعرونوکې دلوړو اخلاقو،عبرتونواوعالي صفتونودرسونه شتون لري . همدا سبب دی چې ده ځانته دا حق ورکړی دی چې خپل شعر داسې ستایي :

**چې دا نور شاعران کاندي هغه نه کا　　　　رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی**

**او یا وایي :**

**دا څه شعر درحمان دی　　　　چې هم ګنج دی هم هنر**

**او یا وایي :**

**هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر　　　　لکه زلفې دخوبانو په رخسار**

**او یا وایي :**

**یا به شهد یا به قند یا به نبات وي　　　　هر کلام چې له رحمانه شنیده شي**

**او یا وایي :**

**ستا د حسن د تعریف له برکته　　　　د رحمان دشعر کوکې پر عالم دي**

**او یا وایي :**

**په اشعارو کښې قوتناک لکه زمری یم　　　　ولې نه یم د زمري په څیر ګزند**

**او یا وایي :**

**در ګوهر په تله نه دي چا تللي　　　　د رحمان شعر ګوهر دی څه یې تلي**

**او یا وایي :**

**هم نغمې کاندي هم رقص کاهم خاندي　　　　د رحمان په شعر ترکې د باګرام**

**او یا وایي :**

**د رحمان وسوزان شعر ته حیران یم　　　　چې یې اور بل شوی نه دی په دیوان**

درحمان بابا شعرونه له مینې، ورورولئ او انساني غوښتنو، پندونواوعبرتونونه ډک دی . ده له خوارانو، غریبانو، فقیرانواو درویشانو نه ځان بیل کړی نه دی، اوتل یې دا
هڅه کوله چې خپله درویشي او فقیري په امیري بدله نه کړي .دده خوږ کلام ددرویشانو اوقلندرانود زړونوغږ دی . د ده کلام د پاکی، سپیڅلتیا،حقیقت، رښتیا او صداقت
آواز دی او دخلکو په زړونو کې ځانګړې ځای لري .
دبیلګې په توګه د ده دا بیتونه ګورو:

**چې یکسان ګوري هم شاه وهم ګدا ته　　　　هسې یار دی رحمان غریب نواز**

**او یا وایي :**

**بادشاهي د ګدایانو په دعا شي　　　　زه رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم**

**او یا وایي :**

**د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لویه　　　　که آباد کا څوک ویران حرم د زړهٔ**

**او یا وایي :**

**زه ملهم د زړهٔ له چا غوارم بې خدایه　　　　چې کړی نه شي طبیبان ملهم د زړهٔ**

**او یا وایي :**

**قاعده د دردمندیٔ هسې نه ده　　　　چې په درد کې یو دردمن له بله کم وي**

**او یا وایي :**

ketabton.com - The Digital Library

**چې د اور لمبو وهلی وي بیا روغ شي نه رغيږي دآزار لمبو وهلی**

**او يا وايي :**

**که نظر کا څوک په کار ددرويشانو خود به ووينې وقار د درويشانو**

**او يا وايي :**

**په دغه لاره به ورشي خدای رسول ته که څوک يون کاندي په لار د درويشانو**
**هر ګفتار به يې د خدای په در قبول وي چې قبول يې وي ګفتار د درويشانو**

**او يا وايي :**

**بادشاهان ددنيا واړه پرې پراته دي لکه خاورې په دربار د درويشانو**
**هر بهار لره خزان په جهان شته دی خزان نه لري بهار د درويشانو**
**د جنت د باغ ګلونه به يې هير شي که څوک ووينې ګلزار د درويشانو**

**او يا وايي :**

**درست ديوان درحمان جار تر داغزل شه چې بيان يې کړو کردار د درويشانو**

**او يا وايي :**

**که مې څوک په اميري شميري امير يم که مې څوک په فقيري شميري فقيريم**

رحمان بابا خپل خيالونه، تصويرونه اوانځورونه ، تشبيهات، کنايات، پاک اوسپيڅلي احساسات، جذبات او عواطف په خپلو شعرونو کې د يو رومانتيک اومينه ناک شاعر په توګه دمجازي عشق،
د طبيعت دمناظرو هنري ښکلا،حسن اوجمال په ډير هنري شکل بيان کړي دي .دبيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو:

**دا دميو څه مستي او سرخي نه ده تيغ د سترګو دې په وينو کې غرقاب دی**

**او يا وايي :**

**که دې مخ په زلفو پټ دی باک يې نشته د حيات اوبه هم پټې په تورتم دي**
**ستا د زلفو له رخساره له سرو شونډو پيدا شوي شام شفق د صبحدم دي**

**او يا وايي :**

**چې شهيد دتورو سترګو په خنجر شي خوشنودي يې دسرو شونډو په کوثرشي**
**چې راياد يې سپين رخسار دراز مژګان کړم هغه دم مې زړه سپند سينه مجمرشي**

**او يا وايي :**

**هغه زړه چې ستا دعشق په اور کباب دی که مرهم ورباندې کيږدې ډير ثواب دی**

**او يا وايي :**

**تش به نشي هغه خم دعشق له ميو چې يې خاورې د فرهاد او د مجنون دي**

**او يا وايي :**

**دبلبل له حاله زده کړه په خزان کې بيا د ګلو تماشا کړه په بوستان کې**

**او يا وايي :**

**عاشقي آسان مه ګڼه خبر شه سر بازی ده هر نفس په دا ميدان کې**

**او يا وايي :**

**عشق وعقل دواړه سره ضد دي که پوهيږې کله کړي آرام د اور بخري په لمبو کې**

**او يا وايي :**

**که ګريوان مې دسپوږمی دنمر مشرق شي زه چې يار په سترګونه وينم تورتم وي**

**او يا وايي :**

**تا چې په دا تورو سترګو وکاته و ماته زړه دې زما تور کړ له دې نوره مخلوقاته**

ketabton.com - The Digital Library

او یا وایي :
ماخو چي ته ولیدې هغه ساعت مې ووې نوره به مینه د زړه نه شي له تا ماته
او یا وایي :
شیخان او زاهدان چي نصیحت وماته وایي نه دي خبر شوي ستا د محسناته
او یا وایي :
زه رحمان چي دې وینم یاره وایم خدایه خیر کړې ګډه شاپیری ده دبني آدم له زاته
او یا وایي :
بې د ستا له مخه ورځ راباندې شپه ده روښنایي دورځې چیرې وي بې نمره
او یا وایي :
ایښی مې په سر دی ستا دمخ دمیني ګل بیا مې تور لیمه دي ستا دزلفو تور سنبل
او یا وایي :
د پیزوان غمی دې زیب کاپر لبانو تورې زلفي دې زنځیر دعاشقانو
دا سور تیک دی شهزاده په اوربل پروت دی شینکی خال دې معاني د بندیوانو
دواړه لب دې ښایسته تر سرو یاقوتو شرمولې ده ږلې ستا دندانو
دواړه لیچي دې کړې کښلي مصری توری در پوهیږم سر به غوڅ کړې د خوارانو
تورې وروځې دې کړې پر جبین زیب کا لکه جیم پر کاغذ کښلی کاتبانو
او یا وایي :
ګرځي په چمن کي منګل ډکه په ګلونو خدای زده چي ګلونه وړي یا زړونه په منګل
او یا وایي :
نه به ستا د مخ په څیر ګلشن وي چا لیدلی نه به وي زما په څیر آهونه د بلبل
او یا وایي :
مست د هغه مخ یم چي مستاني لري سترګې
بې تورې بې تیغه قاتلاني لري سترګې
بې لیدو کتو غابیان زړونه وړي له خلکو
هسي چشمان بندې ساحراني لري سترګې
هر څوک چي یې ویني تورې سترګې کتی نه شي
ښکلې پریوارغوندې حیراني لري سترګې

او یا وایي :
سور پیزوان دې په سرو شونډو هسې زیب کا لکه جیم په قلم کښلی کاتبانو
او یا وایي :
اور اوبه سره چا ګډ لیدلي نه دي دا قدرت دی ستا په لبوکې ښکاریږي
او یا وایي :
که ډوبیږم په اوبه یا په اور سوځم د سرو شونډوپه آتش او په آب خوښ یم
او یا وایي :
هسې مست یم ستا د شونډو په شراب چې به نه وي بل داهسې مستخراب
او یا وایي :
ما چي خال دستا د ورځو تر میان ولید نه بل هسې رنګ امام شته نه محراب
او یا وایي :
زه نورچا وته خبرې نه کړم بې هغوچي مویې مژګان لري دراز

ketabton.com - The Digital Library

**او یا وایي :**

**شام سحر مې دغه ستا زلفې رخسار دي          نور مې مه پوښته له شامه له سحره**

**او یا وایي :**

**خیال د زلفو یې زما تر زړه چاپیره شو          یا تر ګنجه چاپیر شوی مار دی دا**

**او یا وایي :**

**درحمان تر قلم مښک وعنبر ووري          چې آغاز یې کړ اشعار د تورو زلفو**

**او یا وایي :**

**هسې بند شو په کمند دتورو زلفو          چې حیران یم د رحمان په خلاصولو**

**او یا وایي :**

**څکه ژاړم له دو سترګو اوښکې وینې          چې رحمان وینې دیار خنداني زلفې**

**او یا وایي :**

**ځان په مستو سترګو باندې مه غولوه رحمانه**
**دا مستان هوښیاري له حکمته سره ښوري**

**او یا وایي :**

**په رحمان د ستا د لبو مې حرام دی          څو د خپلو وینو جام تاوان ور نه کړم**

**او یا وایي :**

**در و لعل شو ویل د رحمان          چې دی ستا د لعلو و شونډو شو ګویان**

**او یا وایي :**

**که مجنون غوندې په عشق کې څوک صادق شي          دلیلی په دروازه کې دربان نشته**

**او یا وایي :**

**دا څه مخ دی منور          چې هم شمس دی هم قمر**
**دا څه زلفې دي مشکیني          چې هم مښک دي هم عنبر**
**دا څه پیوسته ابرو دي          چې هم نیش دی هم نشتر**
**داڅه سترګې دي قاتلې          چې هم سیف دی هم خنجر**
**دا شونډې دی مئ ګوني          چې هم مئ دي هم شکر**
**دا څه سپین سپیڅلي غاښ دي          چې هم در دي هم ګوهر**
**داڅه سیب زنخدان دی          چې هم سیم دی هم ثمر**
**دا څه قد او څه قامت دی          چې هم ګل دی هم عرعر**
**دا څه ملا ده باریک وضع          چې هم موی دی هم کمر**
**داڅه زړه دی دخوبانو          چې هم موم دی هم حجر**
**دا څه یار دی نه پوهیږم          چې هم دل دی هم دلبر**
**دا څه بت دی زما ربه          چې هم بت دی هم بشر**
**دا څه شعر درحمان دی          چې هم ګنج دی هم هنر**

رحمان بابا یودرویش صفته انسان، صوفي مشربه شاعر او په مذهبي تفکراتو کې ډوب شخصیت و، چې د یو ځانګړي ادبي مکتب اوسبک خاوند دی .

اروابناد پوهاند عبدالحی حبیبي چې زموږ دهیواد یو نوښتګر، مفکر، نامتولیکوال او څیرنیزپوه، تکړه ژورنالیست اوپیاوړی شاعر دی ، په خپله یوه لیکنه کې درحمان بابا د ادبي سبک او شخصیت په هکله داسې وایي :

ketabton.com - The Digital Library

(رحمان بابا دشاعرۍ په فن کې دمستقل مکتب خاوند دی . په خپل شعر کې يې دپښتنو دفطري جذباتو او ملي احساساتو په ساده او روانوخوږو الفاظوداسې ښه ترجماني کړې ده چې هر څوک د خپل ذوق مطابق په هر ځای او موقع کې استفاده ځنې اخستی شي .)

په رښتيا سره چې رحمان بابا دخپل په زړه پوري ادبي سبک په وسيله خپل روان او سليس او د هرچا په ذوق برابرشعرونه خپل ادب دوستانو ته وړاندې کړي دي .ده خپله شاعري او خپل شعر هغه مقام ته ورساوه، چې زموږ زياتره شاعرانو په ډيره مينه او اخلاص د ده دادبي مکتب لارويان شول او د ده په لاره يې پياوړي گامونه اوچت کړي دي .

سره له دې چې رحمان بابا يو درويش صفته او مسکين شخصيت و، خو هغه لوړ مقام چې ده درلوداو دپراخې حوصلې او دلوی همت او غيرت خاوند و، ده هيڅکله د خپل غريبي لاس چا ته نيټ کړې نه دی اوپه خپله غريبي يې قناعت او صبر کړې دی او دخپل لوی خدای(ج) نه شکر گذار و. دبيلگې په توگه د ده دا بيتونه گورو:

**څوک دې راکاندي قسم په کردگار که درم لرم په کور کښې يا دينار**
**زه درم او دينار نه لرم په کور کښې ولې نور عالم مې بولي دنيا دار**
**هم په دا چه نه له ځايه چيرته خوځم نه د هيڅ يوه مخلوق يم منت بار**
**آب و خور لکه آسيا په ځای را رسي پخپل کور کښې مې سکون دی هم رفتار**
**لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم که خزان را باندې راشي که بهار**

**او يا وايي :**

**په هر کور کې رنځوران راته زگيروی کا لاس مې نه رسي دهيچا په دوا**
**د دنيا خبرې واړه په دنيا شي ما به څه کا څوک چې نه لرم دنيا**
**که په هر کلي کې مې کور دی زه گومان کړم چې کور نه دی دا مې گور دی په صحرا**

**او يا وايي :**

**قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دی پټ د درست جهان پادشاه ظاهرگدايم**

**او يا وايي :**

**خدايه گنج دقناعت و رحمان ورکړې چې بی ملکه بی حشمته دولتمند وي**

**او يا وايي :**

**هغو بيا موند سعادت په دا دنيا چې يې وکړ قناعت په دا دنيا**

**او يا وايي :**

**موړ به نه شي هيڅ سړی بی قناعته که يې خونه وي په سيم وپه زر ډکه**

**او يا وايي :**

**د قانع تر قناعته صدقه شه هم دنيا او هم دينار د دې دنيا**

د رحمان بابا د آثارو څېړنه او دده ادبي شخصيت، مقام او شهرت دلرې اوبرې پښتونخوا په محدوده کې محدود نه دی پاتې شوی .په نړۍ کې د يو شمير لويو پوهانواوڅېړنيزو مرکزونوله خواه د ده شخصيت د يو لوی مشر په توگه منلي شوې دی، او ده ديوعالم، فاضل او ستر شاعر په توگه پوره شهرت گټلې دی . د ده دعلمي ، روحاني، ادبي او فرهنگي شخصيت په هکله نه يوازې په لره او بره پښتونخوا کې بلکې دباندنيو ليکوالانو له خواه هم څېړل شوې دی .دنړۍ ډيرو پوهانو او څېرونکو دده آثار لوستي او د ده په هکله يې خپلې څېړنې کړې دي . درحمان باباشير کليات په مختلفو ژبو لکه : انگليسي، روسي، اردواو داسې نورو ژبوژباړل شوی دی .

درحمان بابا د شخصيت په هکله يو شمير مستشرقينو لکه :راورټي او پادري هيوز انگريزي او اډورن روسي چې دپښتوادب پيژندونکې دي، خپلې څېړنې اوقضاوتونه کړی دي . دوی رحمان بابا د پښتو ادب ( پيښوا) ياده وي .

ميجر راورټي دپښتو ژبې او دپښتو ادب په هکله زيات تحقيقات او څېړنې کړی دي .

دی درحمان بابا په هکله خپل نظر داسې بيانوي :

( که څه هم خوشحال خان خټک په پښتو شاعرانو کې لوړ مقام لري ، خو رحمان بابا وټولوپښتنو ته ډير زيات مقبول شاعر دی .)

ketabton.com - The Digital Library

پادري هيوز هم چې يو نامتو محقق او څيړونکې دی، ده هم د پښتو ادب په هکله ډير تحقيقات اوپلټني کړې دي ، او درحمان بابا په هکله داسې وايي :
(په کوم ځای کې چې پښتو ژبه ده هلته درحمان بابااشعار ويل کيږي .)
لنډه دا چې د پوهانو او څيړونکو له تحقيقاتو نه مالوميږي چې رحمان بابا يو لوی عالم،مفکر او ادبي شخصيت اونامتو شاعر دی، د ده علميت ، روحانيت او پرهيزگاري اوصداقت د ده په کلام او شاعري کې او د ده په اعمالو کې خورا ارزښتمندمقام لري . همدا سبب دی هر چا چې دده شعرونه لوستي او اوريدلي دي ، د دوی په زړونو کې يې ځای نيولې دی او د دوی په اعمالو او کردارويې ژور اغيزکړې دی .
دزياترو ادبي تحقيقاتواو څيرونکوله پلوه د رحمان بابا د مړينې نيټه (۱۱۲۸)هجري قمري کال منل شوې دی .دی دپيښور ښار د(هزارخاني) په لويه هديره کې ښخ دی . د ده زيارت ته ډير خلک ور ځي او هر کال د پسرلي په شپواو ورځو کې د ده پر مزار باندې دمشاعرې غونډه جوړيږي . د ده قبر او ډبر ليک د افغانستان دپښتو ټولنې له خوا په (۱۳۳۶)هجري شمسي يا (۱۹۵۸)ميلادي کال کې جوړ شوې دی .
په پای کې غواړم ووايم د دغې مقالي په ليکنه کې د بيلابيلو انټرنيټي منابعوو او درحمان بابا په ديوان استنادشوې دی . ښايي زما ليکنه ځنې نيمگړتياوې ولري د ټولو ادب دوستانواورحمان دوستانو څخه مخکې له مخکې ښښنه غواړم، داچوته ده چې د رحمان باباهر اړخيز شخصيت په څو مقالو او رسالو نشي څرگنديدای، دا کار هر اړخيزه څيړنه غواړي ، خو ما په خپل توان سره کوشش کړې دی چې د ده روحاني ، ادبي اوفرهنگي شخصيت چې د يو سمندر حيثيت لري، يو څاڅکي راپورته کړم اود ادب دوستانو تنده پرې ماته کړم .

**اروا دې يې ښاده وي اودده روحاني او ادبي ډيوې دې تل روښانه وي**

**په ډيردرنښت او ادبي مينه : انجنيرعبدالقادر مسعود**

www.roshanak.nl

ketabton.com - The Digital Library

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*